


# اتم مارچ
# د ښځو امن جرګه

قاضي حضورالله

د مارچ په اتمه نېټه ۲۰۰۹ د عوامي نېشنل پارټۍ د سېوري لاندې په نشترهال پېښور کښې د امن په حواله د ښځو د امن جرګې په نوم يوه درنه غونډه وشوه چې پکښې تقريباً دوه زره ښځو ګډون وکړو. دا غونډه د عوامي نېشنل پارټۍ د صوبائي نائب صدرې او عوامي نېشنل پارټۍ د ښځو د ارګنائزنګ کمېټۍ صوبائي کوارډينيټرې ايم پي اې شګفته ملک د صدارت لاندې وشوه. د دې غونډې د سټېج سېکرټرۍ ذمه وارې د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي جائنټ سېکرټرې ايم اين اې جميله ګېلاني ترسره کړه. په دې غونډه کښې د صوبې د نورو سياسي ګوندونو مشرانو ښځو ته هم دعوت ورکړے شوے ؤ. غونډه کښې د ګډون د پاره د چارسدې ضلعې نه د نورين عالمګير او ثمينه ناز په مشرۍ کښې پېښور ضلعې نه د نسرين بخاري او شبانه سېف الله، پېښور ښار نه منور فرمان، نوښار نه د حميده دراني، پروين ګل او اسما نوار خان، کوهاټ نه ايم پي اې مسرت شفيع او سائره عزيز، لکي مروت نه ياسمين ضيا، بېګم صدرالدين مروت ابېډوکېټ، صوابۍ نه ډاکټر ياسمين جسيم او ډاکټر تسليم په مشرۍ کښې ګڼ شمېر کښې د پارټۍ کارکنانې ښځې امن جرګه کښې ګډون د پاره راغلې وې. د امن جرګې شروع د قرآن پاک د تلاوت نه وشوه. تلاوت نه پس فضل اکبر راهي د خدائے بخښلي غني خان بابا مشهوره ترانه "اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما" واوروله، د ترانې په تعظيم کښې ټول اورېدونکي ودرېدل او ترانه ئې په غور واورېدله او په خپله ئې هم ورسره زمزمه کوله او د خوشحالۍ څرګندونه ئې کوله.

په دې موقع د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر سېنېټر افراسياب خټک، صوبائي جنرل سکتر تاج الدين خان، صوبائي نائب صدره ايم پي اې شګفته ملک، ظاهره خټک، سېنېټر فرح عاقل شاه، ايم اين اې جميله ګېلاني، ايم اين اې بشرىٰ ګوهر، مسرت هلالي ابېډوکېټ، انيلا، د اې اين پي نورو ښځو مشرانو او د نورو سياسي ګوندونو ښځو مشرانو وېناګانې وکړې.

دوي ټولو خپله وېنا کښې نړۍ ته د امن پېغام ورکړو او څرګنده ئې کړه چې نن د باچا خان او رهبر تحريک خان عبدالولي خان د امن د فلسفې د خپلولو ټولې نړۍ ته ډېر زيات ضرورت دے او تر خو پورې چې د باچا خان او رهبر تحريک د عدم

تشدد او امن فلسفه عملي شوې نۀ وي په نړۍ کښې امن نۀ شي راتلے. دوي شريکوالو ته په خپله وېنا کښې ووې چې مونږ په خپله پښتنه خاوره امن غواړو، مونږ جنګ نۀ خوښوو، ځکه چې جنګ او زور زياتے د مسئلو حل نۀ دے. د ټولو مسئلو حل د باچا خان بابا او رهبر تحريک خان عبدالولي خان د عدم تشدد او امن فلسفې خپلولو کښې دے. راځئ چې د خپلو پښتنو ورونړو سره څنګ په څنګ په پښتونخوا صوبه کښې د امن راوستلو او د پښتنو د وران کور بيا ودانۍ دپاره په شريکه ملا وتړو او د پښتون قام د روڼ سباوون دپاره خپلو کښې يو زړۀ او يوه خُلۀ شو، خپلې نظريې او اختلافات يو اړخ ته کړو او خپل مقصد او مرام ترسره کړو.

د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر سېنيټر افراسياب خټک دې غونډې ته په خپله وېنا کښې ووې چې عوامي نېشنل پارټي د امن داعي جماعت دے او په پښتنه خاوره د امن صورتحال بحالولو دپاره اې اين پي د عدل او انصاف معاهده کړې ده. دوي په خپله وېنا کښې ووې چې پښتنو بچيانو ته به تعليم ورکولو کښې هېڅ قسمه کمے نۀ کېږي او د ښځو د حقوقو خلاف به هېڅ يو قانون نۀ جوړېږي، بلکې د ښځو د حقوقو په قوانينو کښې به بدلون راوستلے کېږي. دوي ووئيل چې ښځه او سړے دواړه برابر دي او په دوي دواړو باندې ظلم او د نا انصافۍ اجازت نۀ مذهب ورکوي او دا نۀ د انسانيت تقاضا ده. دوي ووئيل چې اتم مارچ ښځو ته د هغوي د حقوقو د ورکړې د تجديد د عهد ورځ ده. دوي زياته کړه چې د ظلم او ناانصافۍ مخنيوے به په هر صورت کښې کولے شي او د ښځو له اړخه د امن او انصاف دپاره وچت کړے شوے اواز په حقيقت کښې بدلول او هغه نړۍ ته د رسولو به پوره پوره کوشش کولے شي.

د مقررينو د وېنا نه پس د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر افراسياب خټک صېب ښځو ته په ښه کارکردګۍ باچا خان امن اېوارډونه ورکړل چې په هغې کښې ياسمين پيرمحمد خان، ياسمين ضياء، پروين ګل، شګفته ملک، مسرت هلالي اېډوکېټ، ډاکټر ياسمين جسيم، بشريٰ ګوهر، انيلا، سکينه رحمان، جميله ګېلاني، رېحانه ياسمين، لاجو د اقليت نمائنده ګانو ته دوه اېوارډونه او د نورو سياسي ګوندونو نمائندګانو ته او ښځو صحافيانو ته باچا خان امن اېوارډونه ورکړے شو.

د ښځو امن جرګې د اختتام نه پس د ښځو امن رېلي د نشترهال نه ووتله چې پکښې سلګونو ښځو ګډون وکړو، رېلي کښې شريکو ښځو سپينې جنډې او بېنرې په لاسونو کښې نيولې وې. رېلي ته ښځو مقررينو په خپله وېنا کښې غربت او جهالت په معاشره کښې په ښځو د تشدد او ظلم بنيادي وجه وګرځوله او ښځو ته ئې د مساوي حقونو ورکولو غوښتنه وکړه. دوي د ښځو د مسئلو او د هغې د حل په حقله ووې چې د معاشرې او قومونو په پرمختګ او ترقۍ کښې د ښځو ډېر لوئے لاس دے. خو د دوي د حقونو خيال نۀ ساتلے کېږي او اکثر جنګ و جدل او کورنو جګړو کښې په دوي تشدد او ظلم کېږي چې د هغې بنيادي وجه غربت او جهالت دے. دوي ووئيل چې ښځو ته په معاشره کښې عدل او انصاف ورکولو سره سره مساوي حقونو ورکولو دپاره نۀ

صرف په شریکه جدوجهد کول پکار دي، بلکې په دې لړ کښې د مکملې اګاهۍ هم سخت ضرورت دے.

رېلي کښې شریکو ښځو په پښتونخوا صوبه کښې د امن د قیام او ښځو ته د مساوي حقونو ورکولو په حق کښې نعرې ووهلې او دې نه پس امن رېلي په خېر او خېریت سره پائې ته ورسېدله.